مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۲/۱۴

لنډی، د ثبتولو ستونزه

یوسلودیارلسمه برخه

«کورونا» نا روغي، د لنډیو په غېږ کې

یوڅلوېښتمه برخه

اول دروغ راته ښکاره شوه
خو کورونا لویه بلا ده خلک خورینه

کورونا ما را غوښتې نه ده
چې ته مې بولې ملامت په کتابونه

لرګي د اور په زور سوزېږي
زما هډوکي کورونا را سوځوینه

کورونا ګور ته رانه یوړې
نور مې وس نه شته بس دوعا درته کومه

د کورونایي لنډیو د دې برخې لپاره دا لنډۍ وړاندې کېږي:

ما کورونا دروغ ګڼله
اوس پکې ډوب یم د روغتیا کوم سوالونه

اول دروغ راته ښکاره شوه
خو کورونا لویه بلا ده خلک خورینه

ما یې راتګ ټوکې ګڼلې
د کورونا استازي راغلل وېنیومه

کورونا ما را غوښتې نه ده
چې ته مې بولې ملامت په کتابونه

که مې جانان دا ځلې راغی
د کورونا له ډاره پرته به ورځمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لرګي د اور په زور سوزېږي
زما هېوکي کورونا را سوځوينه

له مخه ښې پرته چې لاړم
زه کورونا وم، ما سره وو ستا فکرونه

اوس په بادونو باور نه شته
په کې خپرېږي کورونا او ويروسونه

ډېره چورتي يم کورونا ته
د مسافر اشنا مې نه شته واکسينونه

د باندې تګ مناسب نه دی
کورونا ګرځي، يرغل کاندي ويروسونه

له کورونا نه که خدای خلاص کړم
بيا مې توبه ده احتياطونه به کومه

ټوله نړی کې دا يو غم دی
د کورونا له پاره ټول تشويش کوينه

تر کورونا طالب بدتر دی
کورونا ورو او طالب ژر وژل کوينه

بيا به د ښار په لوري نه ځم
خلک پکې ډېر دي، کورونا ژر لېږدوينه

هره خوا هرچېرې به نه ځې
کورونا شته ده، په هر لور دي خطرونه

د کورونا اورونه بل دي
خلک يې وسول په هر لور دي فريادونه

يو خوا نيستي بل کورونا ده
خواره خواري ده واويلا نارې وهمه

کورونا هرڅه ګډوډ کړل
بخت مې هم خوار شو، ما موزي ته ورکوينه

په مازديګر سوې نارې شوې
کورونا يوړ مور او خور ګرېوان شکوينه

کورونا ګور ته رانه يوړې
نور مې وس نه شته بس دوعا درته کومه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ